SHARIAT

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

شپږم کال ۱۷ مه ګڼه پرله پسې(۳۹۷)چهارشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ذوالحجة الحرام (٥)

د۱۳۷۹هـ ش کال د کب دمیاشتی(۱۰)د۲۰۰۱میلادي کال د فبروري (۲۸)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ځکه چې!

همدا (عدل) ډیر نژدې دی

تقوا (پرهیزګاری) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

محترم مطمئن له امریکا غږ سره په مرکه کې:

په هیواد کې د باطلو معبودانو موجودیت داسلامي شعایرو د سپکاوي په معنی دی

دهغوی د له منځه وړلو پریکړه د اسلامي موجهو دلایلو په رڼا کې ترسره شوې

شریعت:

د افغانستان داسلامي امارت د ورروستی فرمان د پلی کولو او دهغه د شرعي او قانوني ارجحیت په اړه دکندهار د اطلاعاتو او کلتور محترم رئیس ملاعبدالحی مطمئن له امریکا غږسره دیوې مرکې په ترڅ کې وویل:

د افغانستان د جیدو علماء کرامو او دستري محکمې د دارالافتاء دعمومي ریاست د شرعي فتوی له مخې په هیواد کې دباطلو معبودانو د له منځه وړلو پریکړه وشوه ځکه [illegible] اسلامي شعایرو د سپکاوي مع

په هرات کې:

بوه دوله اخلال ګران ونیول شول

[illegible] والله ونه چې د هرات ولایت د غوریانو ولسوالي په مربوطاتو کې د خلکو مع

مشکلات پرواز های داخلي طیارات آریانا آسان گردید

[illegible] هوایی [illegible] این مطلب را به [illegible] اشاعه نمود: [illegible] در پروسه پرواز های [illegible] آریانا [illegible] ص ٤

دبهرنیو چارو محترم وزیر له بي بي سي سره په مرکه کې:

زمونږ لرغوني تاریخ

یواځې په بتانو پوري نه دی منحصر

هغه تاریخي اثار چې زمونږ له عقیدې سره مغایرت ونه لري ساتنه یې د ځان مکلفیت ګڼو

پخوانی متروکې عقیدې زمونږ دویاړ لامل نه دی

د بتانو لمنځه وړل په هیواد کې د ذمیانو د مذهبي آزادۍ د سلبیت په معنی نه دی

شریعت:

نړیوال په تیرو اوونیو موضوعاتو باید لومړی ځان پوه کړي بیا وروباندې دنظر څرګندونه وکړي.

پورتني خبره د ا.ا.ا دبهرنیو چارو محترم وزیر مولوي وکیل احمد متوکل له بي بي سي راډیو سره دیوې مرکې په ترڅ کې وکړه.

محترم متوکل داهم وویل چې دنړیوالو او زمونږ ترمنځ دهغو لرغونو آثارو په هکله چې ذي روح نه وي مشترک نظر موجود دی

دافغانستان داسلامي امارت ورروستی فرمان دهغو آثارو په اړه دی چې هغه له شرعي لحاظه ممنوعیت لري او هغه ذي روح دي.

محترم متوکل [illegible] له خیال لوړي په دي [illegible] چې [illegible] مع

در ایام عید برق کابل طور ٢٤ ساعته تامین میباشد

کابل - شریعت:

به احترام حلول عید سعید اضحی و فراهم آوري تسهیلات هرچه بیشتر خدمات برقي براي مردم بي بضاعت و ناتوان کشور وزارت آب و برق مصمم است تا در روز هاي مبارك و خجسته عید در شهر کابل تقسیم اوقات برجاوي برق نداشته باشد.

محترم مولوي محمد اعظم «علمي» معین وزارت آب و برق ضمن تائید این مطلب به ٤ مخ

په بغلان کې:

د سرنګ پل او د شمارق د ویالي بند بیا جوړ کړی شه

بغلان - باخ

د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالي د باغ شمال [illegible] د پله او د شمارق د ویالي د بند د [illegible] بوې غونډې په ترڅ کې پیل شو. ٤ مخ

امسال ٢٢٣٥ تن از عازمین بیت الله شریف از اداي فریضه حج محروم گردید

کابل - شریعت:

آریانا توانست ذریعه سه فروند طیاره بوینگ خویش طی ۲۲ روز از جمله کاروان پانزده هزار نفري عازمین بیت الله شریف ۱۲۷٦٥ تن آنان را بدون کوچکترین تعلل موفقانه به جده انتقال دهد.

قاري رحمت الله [illegible] آریانا افغان هوایی شرکت [illegible] ص ٤

بین ملل متحد و عراق:

نخستین دور مذاکرات پایان یافت

منابع خبري جهان

اولین دور مذاکرات بین کوفی عنان سرمنشي سازمان ملل متحد و محمد سعید الصحاف وزیر امور خارجه عراق در نیویارک بدون نتیجه پایان یافت.

به گفته منابع خبري وزیر امور خارجه عراق در جریان این ص ٤

وضعیت بیجا شدگان در شهر یکاولنگ (ص ۱۰)

د شهرت پلاستیک جوړولو فابریکې رئیس محترم الحاج عبدالجبار له «شریعت» سره په مرکه کې:

د شهرت پلاستیک جوړولو فابریکه د څلورو پایو ماشینونو په درلودلو سره تولیدي فعالیت کوي

شریعت: قدرمنو لوستونکو! ستاسې پام د هغې مرکې لوستلو ته راګرځوو چې زمونږ خبریال په صنعتي پارکونو کې د شهرت پلاستیک جوړولو د فابریکې له رئیس محترم الحاج عبدالجبار سره کړې ده.

په پیل کې محترم الحاج عبدالجبار داسې وویل: د شهرت د پلاستیک [illegible] فابریکه په ۱٤۲۰ هـ ق کال د ۷۲۱ [illegible] افغانیو په لومړنۍ پانګه جوړه او [illegible] مخ

عکاسی یوسف

ورکشاپ سیلوي کابل نیز مجدداً فعال گردید

[illegible] رئیس سیلوي [illegible] به فعالیت مجدد [illegible] خبرنگار ما چنین [illegible] ورکشاپ که ص ٤

خوروني د وسایلو د له جوړوني غوښتنه وکړه

متحده ایالاتو څخه وغوښتل چې [illegible] وسایلو له صادرولو څخه [illegible] وکړي چې له هغو څخه د [illegible] کار اخیستل [illegible] ص ٤



د شهرت پلاستیک جوړولو فابریکه په پرمختللي ماشینري سمبال ده

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

آیا د بتانو ساتل هم ضروري دي؟

د عالیقدر امیرالمؤمنین د فرمان او د ستري محکمې له پریکړې سره سم په هیواد کې د ټولو مجسمو د له منځه وړلو تصمیم نیول شوی او نور په افغانستان له بتانو څخه پاک هیواد وی، که څه هم مونږ د خپلو تاریخي او لرغونو آثارو د ساتلو په لړ کې خورا مهم ملي مسؤلیت لرو خو باید ووایو چې په دې هکله هم باید د خپلو ذمه واریو پریدونه د اسلامي شریعت له احکامو سره سم وټاکو په دې مانا چې لرغوني آثار خو پرڅو ډوله دي مثلاً: کتیبې چې ٤ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦۲۸۵۹
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

لومړی درجه تاریخی اهمیت لری، یا نور داسی شیان لکه ځینی لوښی، وسلی، او نور فلزی او ډېر ین سامان چی د خپلو پخوانیو نیکونو د یوی نښی په دودیی ساتل پکار دی او له مونږ سره امانت ایښی دی او بل ډول د سالرونکو شیانو څیری او د انسانی شکل مجسمی دی، کومی چی حتماً په خپل وخت کی سپیڅلی گڼل کیدی او لمانځنه یی شویده نو څرنگه چی اسلام د کفر، شرک او هر ډول باطلو معبودانو نښی نښانی ناولی او پلیتی بولی او د ټولو پیغمبرانو له خوا کلکه مبارزه ورسره شوی او اسلامی شریعت هم ددغه ډول باطلو او خرافی معبودانو په له منځه وړلوکی هیڅ ډول مادی او سیاسی مصالح نه دی مراعات کړی نو ځکه د اسلامی امارت دغه اقدام هم یو له اخلاصه ډک او زړورگام دی چی انشاء الله ښی او مثبتی پایلی به ولری.

ددی خبری یادونه هم باید وکړو چی عزت او ذلت د لوی خدای له لوری او یوازی هغه قومونه لوړتیا او عزت تر لاسه کولای شی چی په کلکه موحدین او داسلامي شریعت پیروان وگرځی نو ښایی یوازی د بتانو ماتول زمونږ د تاریخ په محوه کیدلو تعبیر نه شی، بلکی مونږ ته له خپلو نیکو نو نور هم ډیر شیان راپاتی دی چی نه یوازی د تاریخی آثارو حیثیت لری، بلکی زمونږ د وياړونو نښی هم دی او په هغو کی مهم شی هماغه د باطلو معبودانو او مجسمو ماتول دی لکه سلطان محمود غزنوی چی اوس هم د بت شکن په لقب یادیږی نو څرنگه چی د افغانسان اسلامی امارت د لکونو شهیدانو او غازیانو د سرښندنو او قربانیو محصول دی، خامخا دا مکلفیت لری چی خپل ملت سوچه توحید او سپیڅلو انگیرنو ته راوبولی او د شرک، خرافاتو او بدعاتو له ناولتیایی وژغوری چی په دی لړ کی د شرک او بت پرستی د وخت هغه نښانی چی سپیڅلی گڼل کیدی او لمانځنه یی کیده تر ټولو پلیت او نجس شیان دی او په کار ده چی گران هیواد له دغسی باطلو شیانو پاک کړی شی په دی کی شک نشته چی کـه په دقت او ځیرنه د قرآن مجید او نبوی احادیثو مطالعه وشی نو تر هر څه زیات د شرک ، جاهلی او هامو او باطلو معبودانو غندنه پکی راغلی او په دی اساس د یوه مسلمان ولس لپاره ډیر د شرم ځای دی چی له خپلی سوچه اسلامی گروهی سره سره بیا هم د بتانو ساتنه کوی نو راځی یو ځل بیا د یو کلک مسلمان او موحد په توگه د حضرت ابراهیم او حضرت محمد علیهما السلام په سپیڅلو تگلارو پل کیږدو او د بتانو، شرک، باطلو عقایدو او بدعاتو پر خلاف مبارزه کی د هیڅ ډول مادی، سیاسی او نورو گټو او مصالحو پروا ونه ساتو مونږ له کفر ، شرک او بتانو څخه پاک افغانستان غواړو.

په افغانستان کی د بشری مرستو بنه تنظیم ضرورت

(۲)

استاد عبدالاحد

دسولیداریتی د اداری په بیلابیلو پروژو کی ددی ټولنو دغړو شمولیت حتمی وه ولو که د پنځومباشتو په موده کی دوی عملاً دکار په ساحه کی نه لیدل کیدل دا غړی لاځه بلکی د دوی اقارب لک زوی ، دتره زوی ، وراره ، او کاکا به حتمی دزیاتی مودی لپاره دماهر کارگر په توگه چی دورځی به یی پوره دوه منه غنم تر لاسه کول په کار گومارل کیدل او پوره پنځه میاشتی به یی دوام درلود .

دهری مجتمع له مربوطه کلیو څخه به له پلان نه کم خلک دکار لپاره ټاکل کیدل او بیا به همدی کارگرانو ته دکار ځومحدودی ورځی ورکول کیدی پدی بهانه چی نوری ورځی د نوروکلیو برخه ده او بیابه له ډیرو کارگرانو ورځنی مزدوری چی یومن غنم ؤ هم کمبده پدی بهانه چی دمجتمع ضرورت دی .

دپروژو دکاردتطبیق دورځنی کار په مقابل کی دغنمو ورکړه هغه هم دمجتمعو له لاری ددی سبب شوه چی په زرگونو ټنه غنمو څخه په زیاته پیمانه دمجتمعو غړی او د دوی اقارب استفاده وکړی او زمونږ مستحق هیواد وال له هغه نه محروم وساتل شی . او له بله پلوه څرنگه چی زیات شمیر ورځنی کارگران دمجتمعاتو قربیان ؤ دکار کمیت او کیفیت هم په ډېره ټیټه سطحه کی ؤ . چی دسولیدارتی محلی سوپروایزرانو نشوای کولای دهغوی کنترول وکړی ، بایی په کار کی بهبود راولی داځکه چی دکارگرانو استخدامول، تعین دکار دورځو له کاره عزل کول او دغنمو ورکړه ټول دمجتمع په واک کی ؤ .

دیروالی د دفتر دکار دامیکانیزم چی دمجتمعولپاره پوره صلاحیت موجود ؤ بل لوی نقص یی دا ؤ چی دوی به په ډیرجرنت سره دسولیداریتی ددفتر له ځینو محلی سوپروایزرانو سره تفاهم ته ورسیدل چی تعداد دکارگرانو مطابق دپلان او مندرجی حاضری وروښیی ولو که عملاً په ساحه دکار کی نه وی او د حاضری او پلان مطابق دکارگرانو غنم له گدامه وباسی او په خپل منځ کی بی سره و ویشی .

بی وزلو ولسی خلکو او کارگرانو دا حالت دسرپه سترگو لیده او فریادونه یی کول چی ولی مجتمع زمونږحق خوری او دسولیداریتی د دفترناظم هم پدی پوهیده خو ویل به یی چی مونږ نشوای کولای په لنډه موده کی دا جوړ شوی ترتیب بدل کړو . ولی دوی به همیش دا حالت پټاوه او ډونرو اداروته به یی دکاغذ په مخ په کمی او کیفی لحاظ ښه راپوړونه ترتیبول ترڅود راتلونکو پروژوپه باب د ډونرانو حسن اعتماد د فنډ ورکولو په باب حفظ کړی .

همدارنگه سږکال د اف، ای ، او (F.A.O) دټیروالی اداری له خوا په سل گونو ټنه د غنمو اصلاح شوی تخم او زیات مقدار کیمیاوی سره دزراعتی محصولاتو دزیاتوالی په خاطر د سولیداریتی اداری ته ورکړل شوه ترڅو دبامیانو ولایت بزگرانو ته یی دمنی په مهال د ارزانی بیی په مقابل کی وویشی . ولی له بده مرغه دسولیداریتی ددفتر ناظم نه تنها دغه تخم او سره په خپل وخت انفرادی بزگرانو ته ونشوای ویشلای او ددی لپاره چی ډونری اداری له اصلی اجرا اتو خبری نه شی په ډیره عجله سره یی محلی تاجران پیداکړل او پداسی حال کی چی په نوصرړو تخمی غنمو د زراعتی آفتونو ضد زهر جنه دواهم گډه شوی وه په ارزانه بیه یی په هغوی وپلورل او دازهرجن غنم دتخم لپاره نه بلکې دتاجرانو دگټی دتأمین په غرض دغذایی مادی په حیث د هیواد بیلابیلو سیمو ته انتقال شول او په ډیر تأسف سره باید ووایو چی بشری پاکی مرستی دبی کفایتی او بی رحمی په بنا په زهرو ولړلی شوی چی خطرناک عواقب یی ټولو طبی اوغیر طبی کسانو ته معلوم دی .

د سولیداریتی اداری دمالی او لوژستیکی مسئول دمصرف دځانگړو مهارتونو دوه بیلگی :

تیرکال دغی اداری دبامیانو ولایت د پنجاب او ورث په ولسوالیو کی دبیارغونی پروژی درلودی چی دضرورت په بنا باید بلدوزر دبامیانو له مرکز نه ورث ته انتقال شی . افغانی کارکوونکو بهرنی ناظم صاحب ته مشوره ورکړه چی بلدوزر دی دلاری دزیاتوالی او سخت والی له امله په بله ترانسپورتی عراده کی انتقال کړی شی ولی ناظم صاحب ویل نه زه په بودجه کی نورو عرادو ته دکرایی پیسی نه لرم خو د روغنیاتو دمصرف په باب په کافی اندازه پیسی شته نو بلدوزر باید په خپله دا لار ووهی همدا نظر د ناظم صاحب عملی شو په لس گونو بیرله تیل یی وسوځول له یوی هفتی زیات وخت وروسته بلدوزر په داسی حالت کی ورث ته ورسید چی چاپئونه یی له کاره لویدلی او نور تخنیکی عوارض یی هم پیداکړل چی هیڅ ډول استفاده ځینی ونه شوه خو د بودجی دباب او فصل مراعات اصولاً وشو. پاتي لري .

موسیقي د اسلام له نظره

تورپالي همت

هغه لوبي او تفریح گاني چي د ټولني په ضرر وي داسلام مقدس دین ورته هیڅکله اجازه نه ورکوي. الله تعالي فرمايي: ترجمه : اوله همدي انسانانو څخه داسي څوک هم شته چي بابېزه خبري پیري تر څو چي خلک دالله تعالي له لاري څخه له علم نه پرته گمراه کړي او د دغي لاري په بلني پوري مسخري وکړي د دغسي خلکو لپاره سخت ذلیل کوونکي عذاب دي .

له حضرت عبدالله بن مسعود نه په دي هکله پوښتنه وشوه چي له دي آيت نه دلهو الحديث مطلب څه دي؟ هغه دري ځله په تاکید سره وویل: په الله تعالي سوگند چي له دي نه مطلب سندري دي .

ابن عباس ، جابر بن عبدالله ، مجاهد ، عکرمه ، سعید بن جبیر، حسن بصري او مکحول نه روایت شوي دي : دقرآن مجید سوره نجم کي الله تعالي دي لوري ته اشاره کوي ترجمه : نو آیا همدا هغه خبري دي چي تاسي پري تعجب ښکاره کوي ؟ خاندي اوژاړي نه ؟ او په سندرو غېړولو سره دهغومخه نیسي .

ابن حاتم په خپل تفسیر کي دابن عباس ددي آیت تفسیر نقل کوي چي ددي مطلب همه څېر دي چي گناه او نافرماني طرف ته خلک بولي او دابکاره ده چي دگناه خواته د بلونکو په څېرونو کي تر ټولو لوي سندري دي او له دي امله دشیطان آواز تفسیر په سندري سره شوي دي .

له حضرت ابوهریره «رض» نه روایت دي چي نبي کریم «ص» فرمايلي دي : سندرو او موسیقي سره محبت په زړه کي داسي نفاق پیداکوي لکه څرنگه چي اوبه گیاه شنه کوي. ابو داؤد او ابن ماجه په خپل سنن کي له حضرت ابومالک اشعري نه روایت کړي چي رسول الله «ص» فرمايلي دي زما په امت کي ځیني کسان به د شرابو نوم بدل کړي او څښي به یي او دهغه په وړاندي معازف او مزامیر سره دبځو په ژبه سندري دي الله تعالي به هغه په ځمکه خسف کړي او دځینو صورتونه به مسخ کړي بیزو او خنزیر به تري جوړ کړي .

حضرت ابوهریره «رض»نه روایت دي چي نبي کریم «ص»فرمايلي: ترجمه : سندري اوریدل گناه ده دهغه لپاره ناسته فسق دي او له هغونه لذت اخیستل کفردي .

قاضي ابوبکر بن العربي په احکام القرآن کي دحضرت عبدالله بن مبارک او امام مالک په حواله دحضرت انس «رض»نه روایت نقل کوي چي پیغمبر«ص»فرمايلي دي: څوک چي دسندرغاړي وینځي په مجلس کي کښيني او دهغي سندري واوري د قیامت په ورځ به دهغه په غوږ کي ویلي کړاي شوي سرپ واچول شي .

هو ! په دي خبري پوهیدل پکار دي چي په هغه زمانه کي اصیلو ښځو سندري نه ویلي خو اوس زمونږ په ټولنه کي سندرغاړي (هنرمندي) ښځي اصیلي دي .

په در منثور کي د حضرت ابوهریره «رض» یوحدیث رانقل شوي چي نبي کریم «ص»فرمايلي دي په هغه ذات مي دي قسم وي چي زه یې په حق سره رالیږلي یم دا نړي به تر هغه وخته ختمه نشي ترڅو دکسانو باران ونشي او د څېرو بدلیدو واقعات نوي شوي. خلکو پوښتنه وکړه: اي د الله رسوله ! دابه څه وخت وي ؟ هغه وفرمایل: کله چي و وینې چي ښځي په زین باندي سپري شي (ډېر وي وکړي) سندر غاړي ډېر شي او د دروغوشاهد کوونکي عام شي ، سړي ، سړي او ښځه ، ښځه کافي وگڼي (دجنسي غریزي په اشباع کي) .

حضرت جابر «رض» فرمايي : سندرو اوریدلو او نڅا محفل نه ځان لري وساتي ځکه دا د ابلیس لعین له خوا دي. دالله تعالي په وړاندي دشرک په څېر گناه ده سندري او نڅا له شیطانه پرته دبل چاعمل نه شي کېدي .

امام قرطبي دقاسم بن محمد دا الفاظ نقل کړي چي وایي سندري وېل یو باطل عمل دي او بد عمل کوونکي دوزخیان دي .

دمحدث ضحاک «رح» قول دي چي نڅا او سندري دمال ضیاع، دالله تعالي دنارضاتوب سبب او دزړه فاسد کوونکي دي .

حضرت حارث محاسبي «رح»فرمايي: سندره دمردار په څېر حرامه ده.

امام ابو حنیفه «رح»فرمايي: دالله تعالي بندگان دنڅا اوسندرو په محفل کي گډون نه کوي .

امام شافعي «رح»فرمايي سندري وېل یو فضول او مکروه شغل دي چي باطل سره مشابهت لري .

امام مالک «رح» فرمايي: زمونږ په ټولنه (مدینه منوره کي) سندري وېل دفسق کار دي .

امام احمد بن حنبل «رح» فرمايي سندره په زړه کي نفاق پیداکوي او زه هغه هیڅکله نه خوښوم .

هرا دا تقریباً هغه دسیسي دي چي دقومونو مجرمانو هره زمانه په کار اچولي او هغوي په لوبو سندرو نڅا او موسیقي سره دانسانانو دغرقولو هڅه کړېده ترڅو په ژوندانه کي وگړي او په خاص ډول ځوانانه او حکمرانه طبقه دمعقولو موضوعاتو خواته پاملرنه ونکړي او دمستی په څپوکي له سره احساس ونکړاي شي ، چي د کومي تباهي خوا ته تېل وهل کېږي .

همدارنگه دسترو فاتحینو دکامیابي راز هم په دي کي و چي دوي دمال او ښځو د فریب او موسیقي دمحفلونو نه ځان لري ساتلي ؤ او بوبل ته په لاس ورکولو، دوستي او اتفاق سره یې دالسانیت په دښمنانو بریدونه کول ځکه نو دخپل تاتوبي په تعمیر کي هره لحظه برېالي شوي دي .

متصدي صفحه : محمد رفیق "عزت"

د شعر او ادب نړۍ

لا تر اوسه یی ماغزه په کرار نه دی
چا چی ماسره وهلی سر په سنگ دی

بتوای هلال عید!

وحید مژده

طلیعه، تو مبارك هلال عید بیا
براي او که درین غم سراي هجرت و درد
براي او که تپیدن بخون ملت را
چو از براي من درد دیده مي آبي
تونورهان سحر نیستي درین شب تار
به روز فتح که خون شهید راه خدا
در آن دمي که مسیحا نسیم فتح و ظفر

ز بهر آنکه غم و رنج را ندید بیا
به کنج عافیت خویشتن خزید بیا
بدید و بست بخود تهمت ندید بیا
برو چو تیغ سحر قلب شب درید بیا
چو گلنواي اذان سحر دمید بیا
جهنده بر رگ خشك زمان دوید بیا
وزد به بیرق خونین هر شهید بیا

بگوش ناشنو عمر برستم بنیاد
رسید ناله ما و اگر شنید بیا

اختر راغلی

وفایار

غمېږي د مېنې خلاصوی وروښو اختر راغلی
دښمنی شاته غورځوی وروښو اختر راغلی
د رقیبانو په مونږ کله خوشحالی پېرزو ده
سترگی له اوښکو پاکوی وروښو اختر راغلی
راځی زړی سندری پرېږدو د وخت نه خوښېږی
ترېگنی تولی هېروی وروښو اختر راغلی
راځی د بو بل په زخمونو ملهمونه کېږدو
په مېنه درد تکوروی وروښو اختر راغلی
افغان ولسه کوم چاته یی انتظار کولو
دا دی پری تندی ماتوی وروښو اختر راغلی
ما دغه ورځ پسی لیږلی وه چی رابی وستو
پری خپلی سترگی مړوی وروښو اختر راغلی
داسی فرصت او داسی وخت چاته په لاس نه ورځی
وران کلی ، کور مو جوړوی وروښو اختر راغلی
د شرافت او د عزت د ژوند خوږی شېبی دی
پل بی په سترگو ښکلوی وروښو اختر راغلی
«وفایار» وایم چی الله په اتفاق راضی دی
لاس د ورورۍ مو راکوی وروښو اختر راغلی

اختر ته

سمیع الله سمیع

ته چی هر وار په مورږ راځی اختره
حال زمونږ ولی نه پوښتی اختره
د ستا دا هسی خپل سری چی وینو
خود به له تاکوو گیلی اختره
مبارک باد دی راتلل هغو ته نن
چی لری ښی ډېری پیسی اختره
ستا په پریمانه خوشالی کی برخه
مونږ ته نن څومره راکوی اختره
د کرم لاس زمونږ په سر راکاږه
لرو له تانه دا اسری اختره
زمونږ له حاله بی خبر کېږه یو څه
د مونږ کاله ته چی ورځی اختره
نن به تا هم زمونږ سره ژړا کړه
زمونږ په درد که پوهېدی اختره
مونږ ته دسهل او میلو مه وایه
پاتی له مونږ نه دی میلی اختره
دا مونږه کړي لو گناه گوری ا
چي خداي مو نه مني توبي اختره
مونږ په کی وږی او تهرگرځو
لرو که ډېری خزانی اختره
راشه د سولی غم زمونږه وکړه
تر څو به مونږ کوو جگړی اختره

خفه اختره

عبدالباری دلسوز شینکی وال

زمونږ وکلی ته راځه اختره
ولی زمونږ نه یی خفه اختره
لوی واړه ټول مو انتظار دی تاته
تاکړی مونږ سره وعده اختره
تا ویل درځم به په هرکال کی دوه ځل
اوس دی وعده شوله پوره اختره
راځه زمونږ سره وفا وکړه ته
تاته بو لاره کې‌دمه اختره
ستا استقبال ته مو د گلو گېډی
له گلبڼ راوړلی تازه اختره
تاځنې طمعه د خوښی لرو مونږ
لږ را خوشحال کړه خفه زړه اختره
دا زه دلسوز چي فریادونه کوم
صورت می شو نرم ترویشته اختره

احکام قربانی

مولوي نورالحق «عزیزي»

مسایل قربانی

اضحیة (قربانی) حیوانی را گویند که در روز هاي عید اضحي ذبح مي شود.

و در اصلاح : عبارت از ذبح نمودن حیوان مخصوص به نیت ثواب در وقت مخصوص ، می باشد.

این عبادت در سال دوم هجري شروع گردیده است .

دلیل مشروعیت قرباني :

قرآن کریم : خداوند «ج» ارشاد مي فرماید : « فصل لربك و ... » که بقول اکثریت مفسرین مراد از نماز در آیه مبارك فوق (نماز عید) و مراد از نحر (قرباني) می باشد.

از حضرت زید بن ارقم روایت است که اصحاب رسول الله «ص» گفتند یا رسول الله «ص» این قرباني ها اصل آن چیست ؟ گفتند : این قرباني ها سنت پدر شما حضرت ابراهیم «ع» است ... الحدیث روایت از احمد و ابن ماجه .

حضرت انس «رض» روایت نموده است که رسول الله «ص» دو گوسفند نر را که سیاهي وي آمیخته به سفیدي و داراي شاخ ها بود بدست مبارك خویش با ذکر نام خداوند «ج» و تکبیر، قرباني و ذبح نمودند حضرت انس «رض» گفت من دیدم آن حضرت «ص» را که پاي مبارك خود را بر پهلوي وي و یا بروي وي گذاشته بودند و مي گفتند (بسم ... و ... اکبر) متفق علیه .

علماي امت را برین مطلب اجماع ثابت است که قرباني کردن عمل مشروع و بهترین اعمال در روز (نحر) عید مي باشد.

حکمت مشروعیت قرباني :

قرباني نمودن اداي شکرانه در مقابل نعمت هاي متعدد پروردگار و خصوصاً نعمت بقاي انسان از یك سال تا سال دیگر است و قرباني زایل کننده گناهان که در اثر ارتکاب مخالفت از احکام تشریعي و یا نقصان در اداي مامور به از شخص سر مي زند ، مي باشد .

و توسعه (فراخي) به اهل و عیال شخص قرباني کننده را بیار مي آورد اینجاست که دادن قیمت حیوان(قرباني) بجاي ذبح آن کفایت نمي کند بر خلاف (صدقه فطر) که هدف و حکمت مشروعیت آن رفع نمودن حاجت فقیر و مسکین مي باشد.

شرایط صحت قرباني :

سلامتي حیوان که براي قرباني معین گردیده است از عیب هاي که سبب نقصان در گوشت و یا مضر به صحت حیوان مي باشد، مانند عیب هاي چهارگانه که به اتفاق علما مانع صحت قرباني اند که عبارتند از:

نقصان در چشم حیوان، مریض، لنگ، لاغر بسیار زیاد.

بدلیل حدیث حضرت براء بن عازب هم از حضرت رسول الله «ص» روایت نموده که ایشان فرمودند : در اربع لا تجوز في الأضاحي : العوراء البین عورها ، والمریضة البین مرضها و العرجاء البین ضلعها و الکبیر (اوالعجفاء) التي لا تنقي رواه اصحاب السنن و احمد

ترجمه : از براء بن عازب روایت است که رسول الله «ص» گفت : چهار چیز در قرباني جایز نیست، حیوان یك چشم کور که کوري اش واضح است و مریضي که پیدا است مریضي او چنانچه صحت او نماند و لنگی که واضح است لنگي او، و لاغر که مغز در استخوان ندارد ، روایت از اصحاب سنن و ابو داود و ترمذي و ابن ماجه .

انجام عمل قرباني در وقت مخصوص آن

وقت قرباني به نزد امام اعظم ابو حنیفه «رح» روز هاي عید اضحي و شب هاي آن که مقصد از شب هاي آن شب یازدهم ذي الحجة (شب دوم عید) و شب دوازدهم ذي الحجة (شب سوم عید) مي باشد البته در شب اول عید و شب چهارم آن قرباني درست نیست.

که ابتداء وقت قرباني نمودن از طلوع صبح صادق روزاول عید اضحي آغاز و الي قبل از غروب آفتاب در روز سوم عید دوام مي کند. این حکم (جواز قرباني بعد از طلوع صبح صادق در روز اول) خاص مرکساني را ست که در اطراف زندگي مي کنند و نماز عید بالاي ایشان واجب نیست اما کساني که در شهر ها زندگي مي کنند براي آنها قرباني نمودن قبل از نماز عید، جائز نیست.

بهترین وقت براي انجام عمل قرباني روز اول عید اضحي بعد از نماز عید قبل از زوال است . و ذبح نمودن حیوان قرباني در شب مکروه تنزیهي است، زیرا در شب احتمال اشتباه موجود است .

هرگاه در تعین روز عید اشتباه صورت گرفت بعد از اداي نماز و قرباني ، ثابت شد که روز عرفه بود نماز عید و قرباني ادا ، کرده شد ، درست بوده از عید محسوب مي گردد زیرا از اینگونه اشتباهات احتراز غیر ممکن مي باشد. لذا جهت صیانت مسلمانان به جواز حکم کرده مي شود.

نیت :

شخص قرباني کننده باید در قرباني خویش نیت ثواب را در قرباني داشته باشد هرگاه شخصي در قرباني خویش نیت ثواب را نه بلکه بدست آوردن گوشت قرباني را داشته باشد قرباني او صحیح نبوده زیرا در فعل انسان بدون نیت ثواب و رضاي خداوند «ج» ثواب مرتب نمي شود.

اینجاست که هرگاه هفت نفر در یك گاو و یا یك شتر شریك شوند و یك نفر از آنها نیت ثواب نه بلکه فقط نیت گوشت را داشته باشد قرباني هیچکدام آنها درست نیست زیرا آنچه در قرباني ثواب بالاي آن مرتب مي شود (عملیه ذبح نمودن حیوان با نیت ثواب) است . و این عملیه تجزیه را نمي پذیرد زیرا فعل واحد و یا ذبح واحد است .

حیوان قرباني:

علماء دین به این نکته اتفاق نظر دارند که قرباني جز در چهار نوع حیوان که قرآن کریم آنرا (انعام) خوانده است، صحت ندارد و انعام بالاي چهار صنف حیوانات اطلاق مي گردد.

١- شتر نر و ماده
٢- گاونر و ماده که گاومیش را نیز شامل میشود ، اما گاو وحشي درین جمله نمي آید.
٣- گوسفند (با انواع آن) نر و ماده، خصي و غیر آن
٤- بز - (با انواع آن) نر و ماده، خصي و غیر آن

چوچه حیوان قرباني تابع مادرش بوده، هرگاه چوچه اش زنده تولد شود باید ذبح شود.

سن حیوان قرباني:

١- از شتر : آنکه پنجساله بوده و به سن شش سالگي داخل شده باشد.

٢- از گاو : دو سال را تکمیل نموده و به سن سه سالگي داخل شده باشد.

٣- از گوسفند و بز : آنکه یکسال را تکمیل نموده و به سن دوسالگي داخل شده باشد.

پوهیالي لیلما «یما»

شرح منظومهء عروج و نزول اسلام ۲۵

دعوت مسلمین به حقیقت اسلام

مسلمانان! با توکل به خدا متکی به خود شوید

بند ۸۹

آسمان از ثابت و سیار چون دارد مدار — بیستون بالاي قصر دهر مانده پایدار
پس تو هم از همت عالي بر وي روزگار — عزم خود ثابت نماي و فکر خود سیار دار
تا برنگ آسمان بي اتکاي دیگري — بر مراد دل درین عالم بر افرازي سري

شرح: آسمان از سیاره هاي ثابت و سیار براي خویش مدار هایي دارد و بالاي کاینات و موجودات و قصر دنیا بدون پایه و ستوني ، استوار و پابرجا قرار دارد. پس تو اي مسلمان به تقلید از این همت بلند آسمان عزم و اراده، خویش را ثابت و استوار نگهدارو فکر و اندیشه، خویش را در حرکت داشته باش تا اینکه مانند آسمان بدون هرگونه متکاي مادي به مراد دل خویش در این جهان، سر بلند کني و قد بر افرازي.

مسلمانان اگر عزم و اراده، خویش را قوي و استوار بسازند و متکاي خویش جز ذات حق ، چیز دیگري را قرار ندهند و در پرتو فرامین الهي حرکت کنند طبعاً سر افراز و آزاده زنده گي مینمایند .

همت، امید مرد و زن

بند ۹۰:

آخر اي همت بیا بیدار کن ما را از خواب — مختلط با طبع ما شو چون تري همراه آب
سازشي با ما نما چون نغمه با چنگ و رباب — آرزومند توایم از ما خدا را رومتاب
تا که ممنون تو باشیم اي امید مرد و زن — چون زباران بهاري جمله اجزاي چمن

شرح: اي همت و غیرت بیا و ما مسلمانها را از خواب غفلت بیدار کن و در اندرون ما با خوي و خصلت ما یکجا و مختلط شو مانند تري که با اب مختلط است و با ما چنان وفق نما و سازش کن که نغمه با چنگ و رباب سازش میکند یعني نغمه صورت مختلط آواز چنگ و رباب است که از نواختن هر دو حاصل میشود، و آرزو مینمایم اي همت از بهر خدا از ما دیگر رو گردان مباش، به سراغ ما بیا و تا ما اعم از مرد و زن ممنون تو باشیم همانطوري جمله اجزاي چمن (گل، سبزه، درخت، کشت و زراعت) از ریزش باران بهاري شاد و ممنون میباشند.

آنچه باعث رکود مسلمانان شده است همانا عدم همت و عزم و اراده راسخ و تصمیم قاطعانه در یك مورد است یك تعداد مسلمانان امروز در رویا ها به سر میبرند به این امید اند که نیروي غیبي بدون کدام تلاش و کوشش شخصي آنها به ایشان کمك کند تا از این فرو افتاده گي بیرون آیند. یکعده، دیگر تیشه بدست گرفته و ریشه خواهر و برادر مسلمان خویش را قطع میکنند و نمیگذارند جز خود شان کسي دیگري قد برافرازد و به اصطلاح میخواهند پرچمدار پیروزي صرف خودشان باشند. در حالیکه نمیدانند که با شگفتن یك گل بهار نمیشود. مطابق تعلیمات حقیقت اسلام، مسلمان حقیقي کسي است که در فکر سر افرازي و دستگیري مسلمانان دیگر در اندیشه اتحاد و اتفاق شان، و در آرزوي پیروزي و کامگاري شان است.

اي مسلمانان با یاران متحد شوید

بند ۹۱:

اي مسلمانان خدا را جملگي یك تن شوید — جمع با یاران خود چون دانه در خرمن شوید
مختلط چون شیر و شکر بر مراد من شوید — شیخ و شاب از وحدت‌افکار خصم افگن شوید
در طریق کامیابي رهبر از همت کنید — جاده این منزل مقصود از غیرت کنید

شرح: شاعر در این بند خوانند، شعر خود (مسلمانان را) مورد خطاب قرار داده میگوید : اي مسلمانان از بهر خدا همه، تان متحد ویکتن شوید و مانند دانه هاي خرمن با هم جمع باشید و مانند شیر و شکر با هم مخلوط شوید که مقصد و مراد دل من هم همین اتحاد و اتفاق شماست و از اثر اتحاد و اتفاق شما اعم از پیرو جوان است که میتوانید دشمن را بر اندازید و خوار و زبون سازید. باید خاطر نشان ساخت جهت تصاحب جام پیروزي ، همت بلند و عالي را رهبر خویش قرار دهید و جاده، این منزل مقصود یعني جاده، کامیابي را مالا مال از غیرت بسازید.

در متفق ساختن مسلمانان علماو دانشمندان نقش عمده و اساسي دارند، زیرا علما و دانشمندان کساني اند که اساسات دین را میدانند و آن را آگاهانه و شهودي فرا گرفته اند و صلاحیت دادن فتاوي را دارند و وظیفه رهبري جامعه را عهده مند اند، رسالت آنهاست که عوام رارهبري نمایند و به راه راست سوق دهند و رنه عوام کساني اند که همه چیز از جمله دین را تقلیدي فرا گرفته اند و چون ریشه، را نمیدانند بناءً نسبت به مساله بي تعصب آمیز برخورد مینمایند، همین است که براي مشکلات راه حل پیدا کرده نمیتوانند .اما اجماع علما و دانشمندان است که با آگاهي از حقیقت اسلام راه حل میبایند و جامعه را از بیراهه نجات مي بخشند و امروز جامعه اسلامي به علما و دانشمنداني نیازمند است که با رهبري سالم خویش مسلمانان را متحد و متفق بسازند و نیروي همت و غیرت را در وجود ایشان بیدار سازند و رأي بر حرکت سریع مسلمانان در همه عرصه ها بدهند و بدین ترتیب مسلمانان قدرت از دست رفته، خویش را بدست آورند. ادامه دارد

درايام عيد برق ...

خبرنگار ما چنين اضافه داشت : برق طي سه روز عيد طور ٢٤ ساعته بدون پرچاوي در شهر كابل تأمين بوده و همشهريان شهر كابل ميتوانند با اطمينان خاطر امور يوميه خويش را در قبال نور برق انتظام ببخشند.

مهربان

مشكلات پرواز ...

يك سلسله مشكلات اندكي تعلل ايجاد شده بود كه الحمد ... بزودي اين مشكلات رفع گرديد و حال پرواز هاي داخلي ما همه روزه به شكل عادي جريان دارد.

امسال ٢٢٢٥ تن از ...

تاييد اين خبر به خبرنگار ما چنين اضافه داشت :

امسال از جمع اين كاروان ٢٢٣٥ تن بدليل عدم منظوري ويزه سعودي از اداي فريضه حج بيت الله شريف محروم گرديدند كه درين زمينه از جانب آريانا هيچگونه تأني صورت نگرفته است .

طبق يك خبر ديگر آخرين پرواز كاروان حجاج افغاني شام ديروز از كندهار به صوب جده صورت گرفت .

مهربان

وركشاپ سيلوي كابل ...

ستون اساسي سيلو را تشكيل ميدهد قبلاً ٥٠ فيصد صدمه ديده بود؛ اما امروز به اثر اهتمام و مساعي كارگران سيلو دو باره مورد استفاده قرار گرفت؛ هكذا امروز تنها ارزش ماشين آلات فعال و پرزه جات اين وركشاپ حدود ٣٢ هزار دالر امريكايي تخمين ميگردد.

شايان ذكر است كه فعلاً با تأمين بودن جريان برق دراين ترميم خانه ده پايه ماشين آلات مختلف النوع از قبيل: ماشين خرادي، رنده، برمه، آهنگري و ولدنگ مورد استفاده قرار گرفته است؛ نا گفته نبايد گذاشت كه درين وركشاپ براي ٢٥ نفر كارگر فني زمينه كار فراهم گرديده است .

وضعيت بيجا شده گان در شهر باميان

كابل - شريعت :

در شماره ديروز هفته نامه كابل تايمز گزارشي تحت عنوان : «زير آسمان غران باميان» از خبرنگار اعزامي آن جريده از شهر باميان به نشر رسيده كه پرده از فقر و بيچارگي مردمان در آن منطقه برداشته است.

در گزارش چنين آمده : «اخيراً توفان ترس و وحشت بعد از ٢ سال امن و آرامش از شهر باميان عبور كرد و مردمان منطقه را مجبور به ترك خانه و كاشانه شان ساخت.

بلي! اخيراً گروپ غارتگر خليلي طي يك حمله، توانست شهر باميان را براي صرف ٤٨ ساعت تحت تسلط خويش در آورد. در آغاز اين حمله نيرو هاي امارت اسلامي به منظور جلوگيري از تلفات مردم محل كوتاه مدتي عقب نشيني تكتيكي نمودند و با استفاده از فرصت باميان را دو باره از وجود مليشه هاي بدنام خليلي تصفيه و بعد از گذشت دو روز صلح و امنيت مطمئن را در آنجا كاملاً تحكيم بخشيدند.

از آنجائيكه مردم محل مزه، تلخ عملكرد هاي غير انساني و اسلامي مليشه هاي مزدور را به مراتب چشيده بودند قبل از ورود مليشه ها به شهر، آنان خانه و كاشانه، شان را ترك داده و به مناطق تحت كنترول نيروي هاي امارت اسلامي پناه بردند كه در همين كوتاه مدت كوچه هاي خالي، خانه هاي بي صاحب و دوكان هاي بسته فضايي شهر باميان را به كابوس وحشت و ترس مبدل نموده بود.

آنگاه كه مردم بيجا شده، از استقرار مجدد صلح و امنيت توسط نيرو هاي امارت اسلامي آگاه شدند طاقه طاقه بطرف شهر رو آوردند.

در قسمت ديگر از اين گزارش چنين آمده : عقربه هاي ساعت ٢ بعد از ظهر را نشان ميداد . گروهي از مردم در حاليكه يكي پياده و ديگري سوار بر مركب روان بودند توجه مرا به خود جلب نمود.

پير مرديكه سوار بر يك مركب سفيد بود و طفل ٤-٥ ساله، را نيز در شال پينه خورده، خويش در پشت داشت؛ دليل برگشت دوباره خويش را به شهر اينگونه توضيح داد : نامم محمد مراد باشنده تول واره مركز باميان ميباشم. روزيكه مردم محل از حمله، گروه غارتگر خليلي آگاهي حاصل نمودند همه خانه هاي شان را به قصد ولسوالي هاي غندك و جلمش كه تقريباً ٣ ساعت منزل بواسطه موتر از شهر دور است ترك گفتند، چرا كه آنها ميدانستند مليشه هاي خليلي به جز بدبختي و تباهي چيز ديگر برايشان به ارمغان نمي آورند.

گزارشگر كابل تايمز در گزارش خويش مينويسد؛ با وصف اينكه وضع امنيتي باميان رو به بهبود ديده ميشد؛ اما با اين همه ادارات ملكي امارت اسلامي دو باره به حالت عادي برنگشته بودند. هيچ صداي فير گلوله بگوش نميرسيد و نيرو هاي امارت اسلامي مجهز با سلاح هاي ثقيله سوار بر بايغور هاي جاپاني درسرك هاي كندوكبر باميان اينطرف و آنسو در رفت و برگشت بودند.

گزارشگر هفته نامه به نقل از ملا محمد اكبر يكتن از مسوولين نيرو هاي نظامي ا.ا.ا مستقر در باميان ميگويد : مجاهدين اردوي امارت اسلامي در واپس گيري اخير شهر باميان هيچگونه تلفات جاني در قبال نداشتند؛ اما تا حال ٢٣ تن از اجساد شهداي نيرو هاي اردوي امارت اسلامي در حمله كه مخالفين به خاطر تسخير شهر باميان انجام دادند دريافت شده است .

در اخير گزارش وضع صحي و غذايي باشندگان در باميان خيلي وخيم خوانده شده : حتي آمده است كه در شهر باميان يك داكتر موجود نيست، موسسات خيريه خارجي همه دفاتر شان را مسدود نموده و ساحه را ترك گفته اند.»

مهربان



نمايي از شهر باميان عكاسي: يوسف

له امريكا څخه ...

ددغې وينا له مخې د بشر د حقوقو يا د بخښنې د نړيوال سازمان رئيس ويليام شوز وويل: امريكايي شركتونه له هغه څخه ګټه اخلي چې د بخښنې نړيوال سازمان هغه د څورونې سوداګرى بللې ده .

د سرنګ پل او ...

دبغلان ولايت د پلخمرى ولسوالي دباغ شمال د سيمې د سرنګ د پله او د شمارق د وپالې بند چې د تيرو رژيمونو د واكمنانو د نه پاملرنې له امله بيخي ويجاړ شوى و د بيا جوړولو او د ترميمولو كار يې د اسلامي امارت له بودجې څخه د دوه زره پنځه سوه لكو افغانيو په لګښت د بغلان ولايت د كليو د بيا جوړونې او پراختيا رياست لخوا پيل شو او ددغه پله او د وپالې د بند ساختماني چارې د عمري د ساختماني شركت لخوا پر مخ بيول كيږي.

ددغه پله په جوړولو سره د بغلان ولايت د پلخمرى او دهنه غورى د ولسوالي ترمنځ د ترانسپورتي وسايطو د تګ راتګ لپاره زياتې اسانتياوې برابرېږي.

ددغه پله او وپالې د بند د جوړولو د كار د پيل په مراسمو كې د بغلان ولايت د كليو د بيا جوړونې او پراختيا رئيس محترم ملا محمد اسحق حقي او د سيمې يو شمير سپين ږيرو او خلكو ګډون كړى و .

د يو مسؤل خبر ځاى د خبر له مخې ددغه پل او بند د پېنځلس متره په اوږدوالي او لوړوالي د اسلامي امارت له بودجې څخه د خلكو په مستقيمه همكارۍ په څپه او اساسي ډول جوړيږي.

بين ملل متحد و ...

مذاكرات بر لغو تحريم هاي سازمان ملل متحد عليه عراق تاكيد ورزيده و ادامه فعاليت مفتشين تسليحاتي آن سازمان در عراق را به نظارت فعاليت هاي تسليحاتي ساير كشور هاي منطقه از جمله رژيم صهيونستي مشروط ساخته است .

در همين حال كوفي عنان سر منشي سازمان ملل متحد نيز احتمال دست يابي به توافق را در مذاكرات دو روز آينده با وزير امور خارجه عراق بعيد دانست از سوى ديگر هيأت نمايندگي عراق در سازمان ملل متحد تاكيد نموده است كه حكومت آنكشور هرگز به مفتشين تسليحاتي سازمان ملل متحد اجازه نخواهد داد براى ادامه فعاليت تفتيش اسلحه وارد عراق شود.

بايد گفت كه شوراى امنيت سازمان ملل متحد در سال ١٩٩٠ ميلادى تعزيرات اقتصادى را عليه عراق وضع نموده و لغو تعزيرات مربوط به خاتمه موفقيت آميز ماموريت مفتشين امور تسليحاتي سازمان ملل متحد را در عراق نموده است .

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
د خليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

خبرتيا

د افغانستان د اسلامي امارت مركزي نشراتي ارګان «شريعت اونيزه» د ١٤٢٢ هـ ق كال لپاره ګډون كوونكي مني .

د ګډون كلني ونډه په مركز كې (٤٠٠٠٠) افغاني او شپږ مياشتني (٢٠٠٠٠) افغاني په ولايتونو كې د ګډون كلني ونډه (٥٠٠٠٠) افغاني او شپږ مياشتني (٢٥٠٠٠) افغاني .

دغه راز له هيواد نه بهر د ګډون كلني ونډه (١٥٠) امريكايي ډالره او شپږ مياشتني (٧٥) ډالره او د مدرسو د زده كوونكو لپاره نيمه بيه په پام كې نيول شوې ده .

كه چيرې د هيواد له سياسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي او جريانانو سره مينه لرئ او غواړئ پرې خبر شئ نو په «شريعت اونيزه» كې ګډون وكړئ .

اداره

د شهرت پلاستيك ...

تنه كارګرانو ته پكې د كار زمينه برابره شوى ده .

ده زياته كړه : په دغې فابريكې كې څلور پايې ماشينونه د رول شوي دي او د هر موسم لپاره د هغه موسم له غوښتنې سره سم توليدات كوي . د بيلګې په توګه د ژمي په موسم كې بوټان، كلوشې موزې او په اوړي كې شپې دوله بنځينه چپلكې او دوه دوله د نارينه و چپلكې توليدوي.

ده زياته كړه : موږ په پام كې لرو چې په دې نږدې وختو كې د خپل كار ساحه نوره هم پراخه كړو تر څو په دې توګه خپلو هيوادوالو ته د لا زياتو خدمتونو جوګه وګرځو .

دې زياتوى : د شهرت د پلاستيك جوړولو فابريكه د هيواد په څينو ولايتونو لكه : تخار، كندز، بغلان، بلخ، هرات، كندهار، غزني، خوست، پكتيا، ننګرهار او لغمان كې هم نمايندګي لري او ددغو نمايندګيو له لارې زموږ پاخه مواد هيوادوالو ته وړاندې كيږي.

دې زياتوى چې موږ په پام كې لرو په خپل توليدي فعاليت سره د بهرنيو ورته موادو د توريد مخه ونيسو او د هغوى بازار له ماتې سره مخامخ كړو . او خپل توليدي مواد په ارزانه بيه هيوادوالو ته وړاندې كړو او په دې توګه د خپل وران ويجاړ هيواد په بيا سمسورتيا او ښيرازى كې پراخه ونډه واخلو .

په پاى كې محترم الحاج عبدالجبار زياته كړه : د ا.ا.ا څخه زموږ هيله او غوښتنه دا ده چې بهرنه د خامو موادو له وتلو څخه په كلكه مخنيوى وكړي تر څو دغه مواد دننه په هيواد كې د فابريكو په ماشينونو كې په كار ولويږي او اوليه اړتياوې د ننه په هيواد كې پوره شي. زموږ غوښتنه په بهر كې له افغاني پانګوالو څخه دادہ چې خپل هيواد ته راشي او خپلې پانګې په كار واچوي تر څو زموږ هيوادوالو ته د كار زمينه برابره او هيواد مو لا سمسور او ښيرازه شي او په اقتصاد او بيا رغونه كې خپل رول او مسوليت ادا كړي.

مركه كوونكى : حميد الله شبنم عالمي

زموږ لرغوني ...

لرغونو آثارو كې ډېر داسې څه شته چې په مذهبي او عقيدوي لحاظ د هغوى په اړه زموږ او د نورو نړيوالو د نظر ترمنځ فرق شته دى .

محترم متوكل د دې بوښتنې په ځواب كې چې د اسلامي امارت د دې پريكړې په مقابل كې به په نړۍ كې نور مسلمانان د كفارو تر فشار لاندى نه راشي وويل :

داځو څه نوى خبره نه ده همدا اوس د مسلمانانو لومړى قبله (مسجد اقصى) د يهودو تر تيري لاندې ده په هند كې بابري مسجد وران كړى شو په نوره نړۍ كې هم د اشان د مسلمانانو په خلاف ګوابونه كيږي .

محترم متوكل وويل : د افغانستان تاريخ ډيرى برخې لري پنځلس سوه كاله مخكې دلته يو مترو ك عقيدت قايم ؤ چې موږ هيڅ وخت په هغه نشو وياړلى . موږ د هيواد عنعناتو، آثارو او د فرهنګي ميراثونو ساتلو په اړه ژمن يو او د هغو ساتنه د خان مكلفيت بولو چې هغه زموږ د عقايدو په خلاف نه وي، اما دغه باطل معبودان په هيڅ صورت خپل تاريخ نشو بللی.

په هرات كي ...

د څورونې او د عامه نظم او امنيت د ګډوډولو سبب كيده په دې وروستيو وختو كې ددغه ولايت د امنيتي موظفينو د هڅو او هاند له امله ونيول شوه او د اسلامي عدالت منګولو ته وسپارل شوه .

خبر زياتوي چې له دغې ډلې څخه دپارلس ميله وسله هم تر لاسه شويده .

په هيواد كي ...

په معنى دى . مطمئن داهم وويل چې كه څه هم په ظاهرى لحاظ د دغويتانو عبادت نه كيږي خو كوم كسان چې له نورى نړۍ څخه د دې بتانو دليدلو لپاره راځي هغوى د درناوى په غرض راځي چې همدغه درناوى په قلبي لحاظ عبادت بلل كيږي . له همدې امله دا پريكړه د يوه شرعي ضرورت له مخې د اسلامي دلايلو په رڼاكې ترسره شويده .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press